لیکوال: هانس کریستسن اندرسن
ژباړونکی: آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۹/۱۰

# بلبل

## (Nattergalen)

## H. C. Andersen

### لومړۍ برخه



ځنګه چې پوهیږئ په چین کې، امپراتور چینایی دی او ټول هغه شیان چې لري لکه دربار او خلک، هغه هم د چین دي. دا کیسه ډیر کلونه پخوا پیښه شوې وه په همدې سبب، مخکې له دې چې هیره شي، ښایي چې یو ځل بیا و ویل شي.
د امپراتور ماڼۍ ډیره ښکلې او پرتمتنه وه. په دې ماڼۍ کې ډیره شیشه یا چیني کارول شوې وه او ډیر خرڅ پرې شوی و، ځکه یې د ماتیدو امکان ډیر و، تر دې پورې چې هر چا باید پام کړی وای چې لاس یې په څه شي و نه لګیږي او دا کار ډیر ستونځمن و.
د ماڼۍ بڼ له ښکلو ګلانو ډک و او تر ټولو ښکلو او جالبو ګلانو په څانګو کې یې له سپینو زرو جوړ ګونګرې (زنګونه) ځړولي وو او داسې غږونه ورنه جګیدل چې انسان نه شول کولای چې پرته له لیدلو او هغو ته پرته له پام کولو، ور نه تیر شي.
هوکې، د امپراتور په ماڼۍ کې هر څه په ډیرې ځیرکتیا سنبال شوي وو. بڼ دومره لوی و چې د بڼوالو مشر لا نه پوهیده چې د بڼ پای چیرې دی. که چا په بڼ کې چکر وهلی، په پای کې یوه ډیر ښکلي ګڼ ځنګله ته، چې لوړې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ونې یې لړلې او یوه ژوره سین ته رسیده. ځنګل تر سین پورې غځېدلی و، داسې ژوره اوبرنګې سین چې لویو کښتیو هم کولای شول چې د ونو تر څانګو لاندې حرکت وکړي.
هلته یو بلبل ژوند کاوه چې ډېرې ښې غاړې یې کولې، دومره ښې سندرې یې ویلې چې کب نیونکی یې له کب نیولو ایستلی و. خوار کب نیونکی به چې هره شپه راغی چې جال د کب نیولو له پاره او سین ته واچوي او کبان ونیسي، کله به یې چې د بلبل غږ واورېو، غلی به ودرید او ویل به یې: «ښاغلیه خدایه، دا څومره ښکلې غاړې کوي.»؛ خو نه یې شوای کولای چې د ډېر وخت له پاره د بلبل غږ ته، غوږ کېږدي. ده د خپل کار په خاطر ژر بلبل هیراوه؛ خو بله شپه به یې چې بیا د بلبل غږ واورېده، بیا به یې د تېرې شپې خبره تکرار کړه: «ښاغلیه خدایه، دا څومره ښکلې غاړې کوي.»
د امپراتور ځای ته به له ګړې نړۍ څخه مسافر راتلل، تر څو د هغه د ماڼۍ او بڼ ستاینه وکړي، خو کله به یې چې د بلبل غږ واورېده، ټولو به ویل چې د بلبل غږ له هر څه نه ښکلی دی. کله به چې مسافر بیرته خپل هیواد ته ستانه شول، نو د امپراتور د ښار، ماڼۍ او بڼ په باب به یې ډېر کتابونه لیکل، خو بلبل به یې هم هېر نه و او تل به یې د کتاب په لومړنیو کرښو کې د بلبل یادونې کولې او هغوی چې شاعران وو، د هغه بلبل په توصیف کې به یې ښکلي شعرونه ویل، چې د ژوره سمندر په اړخ کې په ځنګله کې اوسیده.
دا کتابونه به په نړۍ کې ګرځچاپیره، لاس په لاس ګرځېدل. داسې هم وشول چې یو کتاب امپراتور ته هم په لاس ورغی. امپراتور پر خپله زرینه چوکۍ کیناست او پر له پسې لوستل یې پیل کړل. د لوستلو په ترڅ کې به یې چې د خپل ښار، ماڼۍ او بڼ ستاینه تر سترګو شوه، نو به په تایید په ښه سر ښوراوه؛ خو نا څاپه دې جملې ته ورسید: « خو د بلبل غږ تر ټولو ښکلی دی!»
امپراتور و ویل:
«څه، څه شی، بلبل! زه خو هغه نه پیژنم! آیا زما د واکمنۍ په سیمه کې، په همدې بڼ کې داسې یو الوتونکی شته؟ ما هیڅ کله داسې څه نه دي اوریدلي! دا به داسې څه وي چې یوازې باید په کتابونو کې ولوستل شي»
امپراتور د دربار رئیس راوغوښت. هغه یو شتمن او عزتمن سړی و. که له هغه سره د ده له مقام نه کوم ټیټ شخص خبرې کړې وای یا یې کومه پوښتنه ځیني کړې وای، یوازې یې ور ته ویل «پ» او «پ» هیڅ مانا نه درلوده.
امپراتور و ویل:
«په دې کتاب کې لیکل شوي دي چې په دې بڼ کې کوم الوتونکی دی چې ببلبل نومیږي. خلک یې داسې انګیري چې زما د واکمنۍ په لویه سیمه کې تر ټولو حیرانونکی شی همدا بلبل دی، ولې تر اوسه پورې ما ته چا د هغه په اړه څه نه دي ویلي؟»
د دربار ریس و ویل:
«ما هم هیڅکله څه نه دي اوریدلي، هیڅکله دربار ته نه معرفي شوی.»
امپراتور و ویل:
«غواړم چې همدا نن ماښام بلبل ماڼۍ ته راشي او ما ته سندرې و وایي، ټوله نړۍ هغه پیژني او زه یې نه پیژنم!»
د دربار رئیس و ویل:
«ما مخکې له دې دا نوم هیڅ نه و اوریدلی. زه به پسې وګرځم او پیدا به یې کړم!»
خو چیرې به یې پیدا کړي؟ د دربار رئیس په ماڼۍ کې ښکته پورته منډې وهلې، په زینو کې پورته، ته او ښکته راته، په لارو کې یې منډې وهلې او له هر چا نه یې پوښتنه کوله. له هغو خلکو نه یې چې پوښتنه کوله، هغوی د بلبل په باره کې هیڅ هم نه وو اوریدلي. د ناکام له مخې امپراتور ته راغی او ورته وې ویل چې دا داستان باید یو له هغو کیسو نه وي چې په متابونو کې یې لیکي او پسې وې غځوله:
«ښاغلی امپراتور باید پر هغه څه باور و نه کړي چې په کتابونو کې لیکل کیږي، دا ټولې هسې خبرې دي، دې ډول کارونو ته جادو او کوډې ویل کیږي.»
امپراتور و ویل:
«خو هغه کتاب چې ما ولوست، هغه د جاپان څواکمن امپراتور را لیږلی و، په دې خاطر هغه نه شي کیدای چې ناسم وي. زه غواړم چې د بلبل غږ واورم، هغه هم همدا نن ماښام! او که بلبل رانه شي، امر کوم چې د ماښام له ډوډۍ نه وروسته دې، د ټولو درباریانو نسونه په سوکانو و وهل شي!»
د دربار رئیس په ډار او وحشت سره و ویل:
«ت ــ پ» او بیا یې په زینو کې ښکته پورته منډې کړې، په لارو کې تیریده او ډیری درباریان له هغه سره ښکته پورته تلل او راتلل، ځکه هغوی نه غوښتل چې وروسته له ډوډۍ خوړلو نه یې نسونه په سوکانو و وهل شي.
هر چیرې د عجیب بلبل په باره کې خبرې کیدې چې ټولې نړۍ هغه پیژانده، خو په دربار کې چا نه پیژانده.
بالاخره یې په پخلنځي کې یوه وړه بیوزلې جلۍ ولیده، هغې وویل:
« اوه، خدایه، بلبل! هو زه هغه ښه پیژنم، هغه غاړې کوي، کولای شي سندرې و وایي. هر ماښام چې زه اجازه اخلم او د ډوډۍ پاتې شوني خپلې بیوزلې ناروغې مور ته، چې د سمندر په څنډه کې ژوند کوي، ور وړم؛ د بیرته را تلو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په وخت کې چې کله د ځنګله په لار کې دمه کوم، د بلبل سندرې اورم. د هغه د غږ په اوریدو سره مې په سترګو کې اوښکې را ټولېږي او داسې کېږم لکه مور مې چې ما ښکولوي!»
د دربار رئیس و ویل:
«د پخلنځي وړوکې جلۍ!
نن شپه بلبل دربار ته غوښتل شوی دی، که ته موږ بلبل ته ورولې، زه به په پخلنځي کې تا ته دایمي کار او مقام درکړم، همدا راز ته به کولای شې چې د امپراتور ډوډۍ خوراک هم وګورې!»
دوی ټول، چې نیمايي درباریان هم ورسره وو، د ځنګله هغه ځای ته ور وخوځېدل، چیرې چې بلبل د خپل عادت له مخې هلته سندرې ویلې. دوی پر لاره وو، چې ناڅاپه یوې غوا په رمباړو پیل وکړ. درباریانو چیغه کړه او یوه یې و ویل:
«اوه! همدلته دی! وړوکی ښاروی، څه درونند غږ لري، زه ډاډه یم چې دا غږ ما پخوا اوریدلی دی!»
د پخلنځي وړوکې جلۍ و ویل:
«نه، دا د غوا غږ دی چې رمباړې وهي! موږ تر اوسه له مقصد ځای نه ډیر لرې یو.»
بیا لږ وړاندې لاړل، چونګښنو غاړې کولې. ناڅاپه د دربار چینایي کشیش و ویل:
«ښکلی دی! زه کولای شم د هغه غږ واورم، غږ یې داسې دی لکه د کلیسا واړه زنګونه!»
د پخلنځي وړوکې جلۍ و ویل:
«نه، دا د چونګښې غږ دی، خو فکر کوم چې ډیر ژر به د بلبل غږ هم واورو.»
شیبه وروسته بلبل په سندرو پیل وکړ. وړې نجلۍ و ویل:
«همدا دی، غوږ ونیسئ، واورئ! هغه دی پاس پر څانګه باندې ناست دی. او بیا یې پاس پر څانګه باندې ناست یوه واړه خړ رنګي الوتونکي ته اشاره وکړه.
د دربار رئیس و ویل:
آیا دا کیدای شي، فکر مې نه کاوه چې داسې به وي! دا خو ډیر ساده ښکاریږي! داسې ایسیدل چې درباري سړي د دې هر څه په لیدلو سره رنګ بایلودی و.
د پخلنځي وړوکې جلۍ په لوړ غږ سره و ویل:
«وړوکیه بلبله! زموږ ښاغلی امپراتور له تا نه غواړي چې سندرې ورته ووایې!»
بلبل ځواب ورکړ:
«هو، په ویاړ سره!»
او بلبل تر ټولې ښې غاړې وکړې.
د دربار رئیس و ویل:
غږ یې داسې دی لکه واړه شیشه اې زنګونه، واړه ستوني ته یې وګورئ چې څنګه ریږي! ډیر عجیب کار دی چې موږ یې پخوا هیڅ کله غږ نه و اوریدلی، غږ ته به یې په دربار کې ډیره پاملرنه وشي او لویه بریا به وي!»
بلبل داسې و انګیرله چې امپراتو د دې خلکو په منځ حضور لري، ځکه یې وپوښتل:
«کولای شم یوه امپراتور ته یوه بله سندره و وایم؟»
د دربار رئیس و ویل:
«زما بې جوړې وړوکیه بلبله!
زه کولای شم تا په ډیرې خوښۍ سره د دربار د نن شپې جشن ته ور وبلم، تاسو به په خپل زړه وړونکي غږ سره امپراتور پر ځان مین کړئ!»
بلبل ځواب ورکړ:
دا غږ، دلته په ځنګل کې، په شنیلي کې ښه لګیږي!»
خو کله چې پوه شو چې امپراتور ټینګار کوي، نو له درباریانو سره د مانۍ پر لوري وخوځید.

د لومړۍ برخې پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr,2,fra s.149-170,Odnsa,Denmark,1994.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ